د پيشرو له خپرونی

# د مارچ د اتمې لمانځنه،
# د آزادۍ او که د اسارت درناوی؟

د مارچ اتمه نېټه د هغو کارگرو ښځو له وينو له توکېدلي، چي د پانگه والو او سرمايه دارنو د اورونو په سرو لمبو کي وسوځېدي. د دغه ارزښت لمانځنه، د هغو کارگرو ښځو د وينو په قدرکولو کي رانغښتي ده، چي ۱۵۱ کاله مخکي د امريکا په متحده ايالتونو يا د سرمايه داری په زبرځواکی کي وښندل شوه، خو جالبه، چي نن ورځ د هماغو جنايتکارو پانگوالو مربيان راپاڅېدلي او دغه ورځ يې په خپل انحصارکي راتينگه کړې ده او له خپل اصلي مضمون څخه يې تشه کړې او په دې وياړلې ورځ باندې ښځو ته د ډاليو او مبارکيو په ورکولو سره ملنډې وهي.

په ۱۸۵۷ ميلادي کال په نيويارك کي د نساجی د يوې فابريکې کارگرو ښځو داسي مهال په اعتصاب لاس پورې کړ، چي د کار د مودې، د کار د شرايطو، د مرضونو له زياتېد او له نورو لسگونو انساني ستونزو سره مخ وې او د کارونو او کارخانو د جنايتكارو تيكه دارنو له لوري پرې بې ساري نادودې کېدلې. د کارخانو خاوندان بې له دې، چي د دغو کارگرو ښځو غوښتنو ته مازې پاملرنه وکړي، د فابريکې په دننه کي يې خونړۍ اور بل کړ او د همدغه اور په سرو لمبو او سکروټو کي يې ۱۲۹ تنه کارگرې ښځې ژوندۍ وسوځولې او په دې توگه يې د کارگرو ښځو دغه برحقه اعتصاب په اېرو بدل کړ.

د امريکا د وخت واکمن دولت دغې مسئلې ته هېڅ پاملرنه ونه کړه او اورلگېدنه يې داسې تعبيرکړه، چي گواکې په خپله رامنځته شوې ده. د دغې خونړۍ پېښې ازانگو ټوله امريکا او اروپا په سر واخيسته او نړيوالې سرمايه دارۍ ته يې سخت ټکان ورکړ. د کلارا زتکين په څېر د مبارزو او سرښندويه ښځو وروستی هڅې د دې لامل شوې، چي دا ورځ د ښځو ترمنځ د سرمايه دارۍ، استبداد او غيرانساني استعمار په وړاندې د کارگرو ښځو د مبارزې د بيرغ په توگه هرکال ولمانځل شي او د هغو ښځو متوته زور او ځواك ورو‌بښي، چي د طبقاتي سرمايه دارۍ او نارينه سالاره ستمونو په وړاندې مبارزه کوي.

د استبداد په وړاندې د مبارزې علم په اثبات رسولي، که چېرې ښځې د طبقاتي استبداد کړۍ ماتې نه کړي، هېڅكله به له نارينه وو سره برابرۍ ته ونه رسېږي. له همدې کبله ده، چي د دغې ورځې لمانځنه د لومړي ځل لپاره په

۱۹۱۵ میلادي کال ترسره شوه او قهرېدلو ښځو په ډېرى اروپايي هېوادونو کې په مظاهرو لاس پورې کړ او د کارګرو او نا کارګرو ښځو د ناسم او بد وضعيت په اړه يې په دغو هېوادونو کې سخت اعتراضونه وکړل او بالاخره د ملګرو متلونو ټوليزې ټولنې په ۱۹۷۵ میلادي کال دا ورځ د ښځو د ورځې په نوم ونوموله.

له تېرو اتو کلونو راهيسې، چې په پام کې ده غربي ډموکراسي په افغانستان کې پلې شي، د مارچ له اتمې يې د دغې ډموکراسی د ټوکرى ګل جوړ کړى او د کابل په ډېرى ادارو کې د هغې لمانځنه کېږي او يو شمېر جل و بلې ښځو ته په لوکسو او قيمتي رستورانټونو کې ډالی ورکول کېږي او مبارکباد باد ورته وايي. دا هڅه له دې پرته، چې د مارچ اتمه په دسترخوانونو راوکاږي او ربښتينی ماهيت يې، چې هماغه د جنايتکارو سرمايه دارنو پرضد مبارزه ده، پټ کړي، بل څه نه بريښي، حال دا چې باخبره او مخکښې ښځې بايد دا ورځ په پنځه ستوريو هوټلونو کې په پروپوزلونو ، د ستيج ترشا د ښځو د ترټولو فاسده دښمنانو په ويناوو او يا د استعمارګرو او جنايتکارو رژيمونو د استازو په شتون کې په تبريك ويلو او ښکلولو ونه لمانځي او که چېرې لږ د فکر خاوندانې وي او په خپلو متو او تن کې لږ قوت لري، بايد کوڅو او سړکونو ته راووځي او د ستمګرانو د ماڼيو د رانسکورولو شعارونه دې ورکړي او د نيويارك د هغو کارګرو ښځو له قاتلانو څخه، چې لوګى شوې او په زغالو واوښتې د مډال او پيسو په اخيستلو دې لږ وشرمېږي.